SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتي ارګان
شپږم کال ۲ ګڼه پرله پسي(۳۸۲)چهار شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شوال المکرم (۸)
د۱۳۷۹هـ ش کال د مرغومي دمیاشتي(۱٤)د۲۰۰۱میلادي کال د جنوري (۳)

در ولایت بدخشان :

درگیریها میان قوماندانان مخالفین شدت یافته است

کابل - باختر :
به اساس راپور هاي منابع موثق مخالفت ها و درگیریها میان قوماندانان مربوط گروه شوراي نظار و استاد رباني تشدید شده است .
بقول منابع موثق مخالفت ها و درگیریها وقتي میان افراد و قوماندانان گروه شوراي نظار و استاد رباني شدت یافت که مسعود هیأتي را به مناطق تحت تسلط خویش در ولایات تخار و بدخشان اعزام و به قوماندانان هدایت داد که منبعد هیچ یك از قوماندانان و یا گروپ ها بدون هدایت مرکز یعني شخص وي فعالیت نظامي و یا جلسه ننمایند که این مساله باعث خشم و عکس العمل شدید قوماندانان مربوط استاد رباني گردیده و منجر به تشدید مخالفت و تداوم درگیریها گردیده است .

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ؛ همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د بامیانو ولایت په مربوطاتو کی :

دمخالفینو دری تنه قوماندانان د اسلامی امارت له ځواکونو سره یو ځای شول

د یو ځای شویو قوماندانانو په جمله کی قوماندان داود ، قوماندان فاروق او سر معلم سیف الدین شامل دی

هغوی له ځانه سره یو زیات شمیر درنی او سپکی وسلی هم تسلیم کړی

یو ځای شویو قوماندانانو په سیمه کی د سولی او امنیت د ټینګولو تعهد وکړ

بامیان - باختر :
د افغانستان د اسلامی امارت د مخالفینو دری تنه قوماندانان د خپلو وسلو والو افرادو په ګډون د بامیانو ولایت په مربوطاتو کی د اسلامی اردو له پوځونو سره یو ځای شول.
په هغی غونډه کی چی له همدی امله د استخباراتو د لوی رئیس محترم قاری احمد الله د بامیانو ولایت د فرقی د مسول محترم ملا عبدالستار ، د بامیانو ولایت د امنیه قوماندان محترم قاری بریال ، جهادی شخصیت محترم اخند زاده ملا زوی د یو شمیر نورو نظامی
٤ مخ

په فاریاب کی :

د میرزا الغبیک د تربیتي علومو موسسی فارغانو ته سندونه ورکړل شول

د فاریاب ولایت د میرزا الغبیګ پیداګوژی د انستیټوت د دوه ویشتمی دوری فارغانو د فراغت سندونه وویشل شول.
په هغې غونډه کی چی له همدی امله پرون له غرمی مخکی په دغه انستیتوت کي جوړه شوي وه لومړی د فارياب د پهدا ګوزي
٤ مخ

د ملی دفاع وزارت د لوی درستیز له خوا

د جبهی لومړی کرښی و کتل شوی

مزار شریف - باختر :
د ملی دفاع وزارت لوی درستیز محترم ملا محمدفاضل اخند او د شمال زون تنظیمه رئیس او د بلخ والی محترم ملا نور الله نوری پرون د هزار باغ خواجه غار او د دشت ارچی د جبهو لومړی کرښی وکتلی.
د ملی دفاع وزارت محترم لوی درستیز او د شمال زون تنظیمه رئیس او د بلخ والی پداسی حال کی چی د بغلان والی محترم ملا عبدالجبار عمری او د بلخ ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم ملا اسد الله فرید ورسره و د تخار ولایت د هزار باغ او خواجه غار او د کندز ولایت د دشت
مخ

بین چین و تایوان :

ارتباط مواصلاتي بحري تامین گردید

رفت و امد کشتي ها بین چین و تایوان بار دیگر آغاز گردید این رفت و آمد بعد از حدود پنجاه سال وقفه از سر گرفته شده و سه هروندکشتي مسافربري تایوان حامل هفت صد مسافر وارد بندر جنوب چین شده است .
تایوان در نتیجه جنگ داخلي در سال ۱۹٤۹ از جمهوري چین جدا
مخ

در ترکیه :

از اثر غرق شدن کشتي ۵۰ نفر هلاك گردیدند

بر اثر غرق شدن یك کشتي باربري در آبهاي ساحلي جنوب ترکیه پنجاه نفر به هلاکت رسیده اند.
کشتي متعلق به جمهوري گرجستان بوده و بسوي اروپا در حرکت بود به گفته مامورین ترکیه کشتي غرق شده حامل مهاجرین غیر قانوني بوده که سی و دو نفر
ص٤

از اثر انفجار بم در فلسطین اشغالي ۵۰ نفر زخمي گردیدند

بر اثر انفجار بم در شهر سالحي نیتنیاي تحت اشغال رژیم صهیونستي حدود پنجاه نفر زخمي گردیده اند.
مسوولیت انفجار بم را که در یك موتر جابجا گردیده بود تا هنوز کسي به عهده نگرفته است .
طبق خبر مذکور در نتیجه بر خورد هاتیکه دیروز بین اعتراض کننده گان فلسطیني و نظامیان صهیونست در ساحل غربي رود اردن روي داد ، چهار فلسطیني به ضرب
ص ٤

در فلپین :

محاکمه رئیس جمهور فلپین از سر گرفته شد

محاکمه جوزف استرادا رئیس جمهور فلیپین دیروز از سر گرفته شد .
جریان محاکمه وي یازده روز قبل متوقف گردیده بود جوزف استرادا به فساد مالي متهم میباشد.
به گفته منابع خبري محاکمه مذکور در حالي از سر گرفته میشود که شهر مانیلا پایتخت فلیپین طي هفته هاي اخیر صحنه
ص ٤

په تخار کی :

د کمکي اختر په ورځ د بزکشي پیل شوی لوبه پای ته ورسیده

تخار - باختر :
د بزکشی هغه په زړه پوری لوبی چی د نیکمرغی کوچنی اختر له امله د تخار ولایت د مرکز تالقان په ښار کی پیل شوی وی پرون پایته ورسیدی.
ددغـــو لوبو په
٤ مخ

په فلسطین کی :

صهیونستي یرغلګرو د لویدیځی غاړی کلابندی نوره هم سخته کړه

د صهیونیستی رژیم تر اشغال لاندی د ناتانیا په ښار کی پرون د بوه بم له چاودنی وروسته ددغه رژیم یرغلګرو د اردن د سیند د لویدیځو غاړو کلابندی پراخه کړیده .
د خبری منابعو د خبر له مخی د فلسطیني
٤ مخ

په المان کی :

ښځو ته په پوځ کی د کار کولو موقع ورکړل شوه

د ښځو لومړی ډله سر له پرون ورځی څخه د المان د اردو په څانګو، سمندری او هوایی پوځونو کی په خدمت وګمارل شوه..
په مجموعی ډول دوه
مخ

از طرف پولیس عربستان سعودي :

پنج تبعه بریطانیایي بازداشت شدند

پولیس عربستان سعودي پنج تبعه بریتانیا یي را به اتهام اخلال نظم عامه بازداشت نمود.
به گفته رادیو بي بي سي این پنج بریتانیا یي به دلیل شراب نوشي و برهم زدن نظم عامه بازد اشت شده
ص ٤

د کمبودیا پارلمان :

د سره خمر د دیکتاتوری حکومت د مظالمو د روښانه کولو لپاره محکمه جوړه کړه

د کمبودیا پارلمان د سره خمر د دیکتاتوری حکومت د جنایتونو او ظلمونو د روښانه کولو لپاره تصمیم ونیو چی په دغه هیواد کی یوه خاصه محکمه جوړه شی.
دغه تصمیم د سره خمر د دیکتاتوری حکومت له پایته رسیدو څخه نږدی دوه ویشت کاله وروسته نیول شویدی.
سره خمر په ۱۹۷۵ او ۱۹۷۹ کلونو کی په کمبودیا باندی حکومت وکړ چی د دوی د حکومتولی په نتیجه کی کابو یو ملیونو او سوه زره تنه ووژل شول .

په مالیزیا کی ۷۰۰ تنه مامورین له کاره ګوښه کړی شول

د مالیزیا حکومت خپل څه د پاسه اوه سوه تنه مامورین په دوه زرم میلادی کال کی د بی انضباطی او بی دلیله غیر حاضری په علت له کار څخه ګوښه کړیدی.
د مالیزیا د عمومی خدمتونو اداری د یوی وینا په خپرولو سره پرون ورېل دغه مامورین د بی دلیله غیابت د مسولیت د نه احساس او نه صداقت له مخدره موادو څخه د استفادی ،د عمومی خدمتونو د وسایلو د خرابولو او د کار په
٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ملګرو ملتونو اداره د مخدراتو بندوونکی، که هڅوونکی ده ؟!

په دی ورو ستیو کی د روس ، امریکی په غوښتنه د امنیت شوری له خوا په افغانستان د نورو بندیزونو پریکړه وشوه، په دی کی افغانستان ته د وسلو د لیږدیدو سره خواکی د هغو کیمیاوی موادو په راوړلو هم بندیز ولګول شو، کوم چی په هیروئینو کی استعمالیږی، خو څنګه چی نوموړی بندیزونه بو اړخیز دی، په دی مانا چی بوازی د اسلامی امارت تر واکمنی لاندی سیمو باندی لګول شوی نو په څرګنده یې مطلب دا شو چی د مخالفینو سیمی ته لکه چی د پریمانه وسلو اجازه ده همدا شان په هیروئینو کی مصرفیدونکی کیمیاوی مواد هم مجاز دی، له دی ډول متناقضو دریځونو حتماً دا شک را پیدا
۲ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانۍ په پاکستان کې (٣) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

کیږي چې بنایي لویدیځ او د ملګرو ملتونو اداره به د مخدراتو په هکله له دې تولو چیغو نارو سره سره بیا هم د مخدراتو په بندولو کې ربښتینې نه وي بلکې دا به بوه تشه پلمه وي تر څو هغه ولسونه د فشار لاندې راولي څوک چې د هغوی له سیاستونو ځان خپلواک او مستقل بولي د نړیوالو څېړونکو په خیال دلته بو لړ نور حقایق هم شته چې د دې مدعا لا ښه پخلې کوي او هغه دا چې ولې د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو په سیمه کې چې همدا اوس د هیروئینو په لس ګونو کارخانې پکې فعالې دي د مخدراتو په هکله هیڅ اعتراض نه کیږي آیا دا به له ټول بشریت سره لویه جفا نه وي چې د مخدراتو په شان خطرناک دښمن په مقابل کې هم د ځانګړو سیاسي ملحوظاتو په خاطر ځینو خاصو حلقو ته امتیازات ورکړل شي ؟ بله دا چې ولې د دې موذي بوټي د له منځه وړلو لپاره د اساسي او غوڅو اقداماتو په ځای بې اغیزې او جانبي تدابیر نیول کیږي، مثلاً د افغانستان په چاپیریال کې د امنیتي کمربند په نامه د څوکیداري ټینګول او داسې نور.

همدارنګه له اسلامي امارت سره د کوکنارو د بشپړ بندیز او د هیروئینو د کارخانو په ورانولو کې له مرستې او ملاتړ نه ډډه کول په خپله بو څرګند شاهد دی چې د نړۍ والې ټولنې او لویدیځ والو دوه مخې ثابتوي. ځکه هغه څوک چې له مخدراتو سره په مبارزه کې ربښتیني وي، خامخا به له اسلامي امارت سره په دې باره کې مرسته او د شاړو ځمکو په ودانولو، نهرونو، بندونو او داسې نورو کرنیزو مواردو کې د کروندګرو امداد کوي، په دې کې شک نشته چې دا یو آسانه او عملي حل دی خو مغرض هیوادونه بیا هم له خپل استعماري عادت سره سم هیڅکله واقعیت ته غاړه نه ږدي او له افغان کروندګرو سره ډېرو کمو مرستو ته هم زړه نه ښه کوي، هغوی کولای شي په پنځو دقیقو کې په افغانستان باندې (٧٠) کروز توغندي را وشړي او سل ملیونه ډالره مصرف کړي خو دا نه شي کولای چې د ملګرو ملتو له شمیرنې سره سم د افغانستان د اپیمو ټوله کلنۍ بیه (٩١) ملیون ډالره بزګرانو ته ورکړي ! هغوی د افغانستان پر خلاف د کوکنارو د فصل تباه کولو په پلمه د یو بیولوژیکي جنګ لپاره په لس ګونو ملیونه ډالره ورکولای او د افغانستان شاوخوا امنیتي کمربند په نامه له بیلا بیلو خوا و سره ډېرې مرستې کولای شي خو زمونږ روسي برغل ځپلي هیواد د شاړو ځمکو په ودانۍ کې ډېرې محدودې مرستې هم نه شي کولای، او بیا هم د نړۍ ډېر هیوادونه د اپیمو پر خلاف مبارزه کې خپل کلنۍ لګښت تر سلو ملیونو ډالرو زیات بولي خو افغانستان ته لس ملیونه هم نشي ورکولای ! دا چې ملګري ملتونه د مخدراتو په سوداګرۍ کې ټوله نړیواله پانګه (٤٠٠-٦٠٠) میلیارده ډالره او بیا د افغانستان د بزګرانو برخه (٩١) ملیون ډالره ښیي، په خپله څرګندوي چې افغانستان ته له دغو پیسو څخه بوازې زرمه برخه لاس ته ورځي، نو اوس پوښتنه دا ده چې نورې (٩٩٩) برخې د چا دي ؟

له بلې خوا ملګري ملتونه هم د استعماري هیوادونو د ګټو ساتونکي اداره په ډول هیڅکله د هغو جریاناتو ځار، نه کوي چې د تاجک، افغان سرحد په اوږدو کې د روسي عسکرو او اپیم چلوونکو تر منځ ښيښيږي په دې اړه هم د زیاترو کتونکو دا خیال دی چې اصلاً روسانو ته له دې لارې ډېره زیاته ګټه په لاس ورځي او ښايي بو غټ شمیر روسي جنرالان پکې برخمن وي له همدې ځایه معلومیږي چې د ملګرو ملتو په شمول ټول استکباري قدرتونه د مخدراتو په کارو بار کې شریک او د اپیمو د مافیا لاسونه تر لرې لرې غځیدلي دي خو له دې ټولو ترخو واقعیتونو سره سره به د افغانستان اسلامي امارت د کوکنارو پر خلاف خپله مبارزه جاري ساتي او د یو شمیر ناوړه او غرضي حلقو د مخالفت پروا به ونه ساتي ځکه اسلامي امارت د خپل دیندار او مجاهد ملت د نیکمرغي او سوکالي متعهد دی او هیڅکله به د دې بشر تباه کوونکي رنځ په وړاندې بې توپیره پاتې نه شي.

عبدالرحیم «ثاقب»

غریزه

غریزه په انسان کې بوه طبیعي پدیده ده.

د انسانانو غریزې هم د هغوی د طبیعتونو په څیر یو له بله مخالفې وي.

څوک د نامه او شهرت طلبي غریزه لري، په چا باندې بیا هوس راني او ترفه زور کړي وي، څوک بیا دولت او مال ټولونې په سر اخیستې وي او څوک...

حکمتیار صیب هم د خپلو نورو همنوعانو (انسانانو) په څیر خدای د بوې نادرې غریزې څښتن پیدا کړی غریزه درلودل لکه چې مخکې مو وویل یو طبیعي څیز دی چې په شتوالي او نشتوالي یې څوک نشي ملامتیدی خو غریزه تر غریزې بیا فرق لري.

حکمتیار صیب بیخي د یوې جلا شانته غریزې خاوند دی. داسې بوه غریزه چې په ټول ژوند کې نه خپله دې وریاندې هوسا شوی او نه یې نور د خدای بنده ګان کراري ورځې ته پر ښې.

د ده غریزه بواځې د انسانانو وژنه او د هغوی ځورونه ده او بس. که څه هم چې حکمتیار صیب تر اوسه پورې: هغې له طفیله ښه ورغ نده لیدلې خو بیا هم د ده غریزه ده او دا چې دې پړې خوښ دی نو هیڅوک یو ده نشي پکې ویلای.

دا چې د حکمتیار صیب غریزه څومره نادره او نابلده غریزه ده هغه به وي خو ده تر اوسه پورې ښه مړه ساتلې: د اسلامي جهاد په دوران کې یې د خپلو تنظیمي رقیبانو په وژنه اشباع کوله.

په کابل کې د کمونستي نظام له رانسکوریدو او د خپل بې مکانه صدارت عظمی په مهال یې په ړندو راکټونو د کابل ښاریانو بیخ او بنیاد ورتباه کړ، د طالبانو د تحریک له را ښکاره کیدو سره سم ورته د همدې نادرې غریزې د اشباع بوه بله موقع برابره شوه.

خو د طالبانو تحریک د خپلو نورو خوارقو سره سره د حکمتیار صیب په غریزه کې هم اغزي ورمات کړ، که څه هم چې انسان په خپل وس پړ دی، ده خو دا ځلې هم په ډېرو نارو سورو او منډو را منډو سپما و نکړه خو بخت ورسره مل نشو.

د غزني ولایت د روضې په کوتل کې یې د طالبانو د وژنې او مخنیوي لپاره خپل ټول او باشان قلم، زړ دا دا وچمن سره را ډل کړل خو څه کوچ تری پلاس ور نغلل. او هغوی چې همالته د طالبانو د ځواکونو په مقابل کې شګرز شول بیا په شیخ اباد، لوګر، چارآسیاب، سپینې شګې، سروبي، کابل، او آن شمال کې یې هم له طالبانو سره بیا مخامخ کیدو ته زړه ښه نکړ.

په شمال کې د خپلو تنظیمي او سیاسي سیالانو استاد رباني او مسعود تر وزرو تر لاندې د اوسیدو په مهال له خپلې نیمه خوا غریزې پرته نور هیڅ هم ورته پاتې نه شول جهاد، مبارزه، حیثیت او ټول دار او مدار یې تر خپلې غریزې قربان کړل، آن تر دې چې د هغې د بیا ممکنه اشباع لپاره یې د ایران په لوري ورووهله، د زړونو مالک خو خدای دی نه پوهیږو چې هلته به په ده باندې څه خواري راغلې وي او بیا به یې هم د خپلې غریزې د پوره کولو لپاره څه کړي دي په ځان منلي وي.

آسمان ته لار د ختو نشته
د ځمکې سر...

د حکمتیار صیب په غریزه کې د حیراتیا بل ټکي دا دی چې ده د ژوند د غو تر خوبینو به طوعاً او کرهاً ده په سیاست، دریغ او حیثیت کې څه بدلون راوستی وي مګر اورمړې غریزه یې لا هماغه شان تر او تازه پاتې ده او په دې وروستیو کې یې بو ځل بیا د ایران د تهران راډیو او ځینو نورو خبري رسنیو سره د مطبوعاتي مرکې په ترڅ کې په ملت غږ کړی چې هغوی دې په ټول هیواد کې د طالبانو پر خلاف په عمومي پاڅون لاس پورې کړي.

دا چې ملت به تر کومه حده د حکمتیار صیب دې غوښتنې ته لبیک ووایي او د دغه پاڅون به تر کومې اندازې د ملت ستونزې حل کړي په دې خبرې به قضاوت خپله ملت ته پریږدو. حکمتیار صیب په خپلې دغې مرکې کې نورې هم داسې مرغلرې شیندلې چې د سړي ورته سد له سره وزي او دې خو ګرم ځکه نه دي چې نیږدې درې ځلور کاله وړاندې همداسې په وزګارتیا کې تیر شول او په دومره اوږده وخت کې یې د خپلې طبیعي برابر هیڅ ونه کړې شول.

حکمتیار صیب د خپلې مرکې په ترڅ کې د ملت له خوا یو سراسري قیام د افغاني لانجې بوازنی حل بللی او ددې تر څنګ یې خپل پخوانی ګردان بو ځل بیا تکرار کړی، د آزاد و انتخاباتو او لنډ مهاله حکومت یادونه یې کړې، په مزار شریف کې د ایراني په اصطلاح دیپلوماتانو (جاسوسانو) په وژنه یې غمرازي ښودلې، هغه یې ناوړه کار بللی او طالبان یې د ملت غاصبان ښودلي. سړی نه پوهیږي چې حکمتیار صیب د کوم تعقل او منطق له مخې د طالبانو پر خلاف د ملت عمومي قیام د حل لاره بولي. ملت خو مونږدې درې لسیزې په قیامونو کې تیرې کړل. آخر دوی ته به د یو څو شیبو آرام پیغام کله ور اورول کیږي ؟

حکمتیار صیب خو ملت ته نور هم ډېر داسې عجولانه فرمانونه صادر کړي چې سبا به یې بیرته د هغو پر خلاف له خپل پروني دښمن، ننني دوست سره یو ځای د ملت برخې وهلې.

ایا ملت بوازې دا مسؤولیت لري چې فقط د حکمتیار صیب د فرمایښتي فرمانونو د عملي کولو لپاره به ټول عمر لاس په سینه ولاړ وي ؟ خیر دی که حکمتیار صیب د غریزې په جنون مبتلا وي، وي دې آخر له ملت نه تر کومه ددغه راز جنون آمیزه غوښتنو تقاضا لري ؟ ممکن دي د غریزې تسلط دومره سر بداله کړې وي چې اوس لا هم ورته ځان د فرمانونو د صادرولو جوګه ښکاري خو ملت بیا دده د توقع پر خلاف له تیرو تجربو نه دومره څه تر لاسه کړي چې د ځان ګټه او تاوان وریاندې معلوم کړي.

په هر حال ښايي د وخت په تیریدو سره د حکمتیار صیب غریزه نوره هم په جوش راشي ځکه چې د عمر په پخیدو سره ځینې دغه راز غریزې ځان د کمال پړاو ته رسوي چې بیا به یې په قابو کولو پورې بیخي پکو وي. چې همدا اوس یې د بوې مناسبې توصیې له مخې غم خوړل ورته په کار دي او هغه په دې توګه چې حکمتیار صیب دې فلسطین، چیچنیا او یا کشمیر ته تشریف یوسي او هلته دې نور د خپل ژوند په وروستیو کې د غاصبو یهودانو، روسانو او یا هم ظالمو هندوانو په وژلو سره خپله غریزه ښه مړه کړي که بالفرض بیا د هغوی وژنې ته زړه نه شي ټینګولی نو هلته خو هسې هم هره ورځ لس شل تنه فلسطینیان کشمیریان او چیچنیایان د غاصبانو له خوا تر تیغ تیریږي ګوندې د هغوی په لیدو سره یې غریزه مړه شي که بشپړه مړه نه شي څه نا څه د تسکین چاره خو به یې وشي.

١ د مخدراتو ستونزه او نړیواله سوداګري

لیکوال: مصطفی حامد ژباړه: فاروق

افغانستان، امریکا او ملګري ملتونه څه رول لوبوي؟ ګټه د چا، تاواني څوک او حل یې څه دی ؟ د اپیمو راټولونکي جګړه د چا له خوا ؟ د څه لپاره او چیرته ؟

ایا ربښتیا هم نړیوال د مخدراتو په ختمولو کې جدي او ربښتیني دي او افغانستان د ستونزې اصلي لامل دی ؟

که نړیوال په دې خبره کې ربښتیني وي نو په افغانستان کې د کوکنارو د بشپړ بندیز د پروګرام ملاتړ ولې نه کوي ؟ او د دغو فیصلو ننګه یې ولې ونه کړه چې د پاکستان د پولې خوا کې یې ګڼ شمیر د هیروبینو کارخانې له منځه یوړې، هغه چې د لویو نړیوالو ټولګیو له خوا یې پالنه کیده او ولې د امریکې او ملګرو ملتو له خوا په افغانستان کې د کوکنارو د بندیز فرمان له بشري حقوقو سرغړاوی وګڼل شو، ځکه چې وایي دا به په زور عملي کیږي ؟!!!

په کار خو دا و چې ددې فرمان پراخ او هر اړخیز نړیوال ملاتړ او هر کلی شوی وای که ربښتیا هم نشه یې توکي همدومره خطرناک او دومره ډېر وي لکه چې دوی یې د ګردې نړۍ د پیداوار ٧٥٪ برخه بولي یا دومره چې له دغو اپیمو تولید شوی پوډر د لویدیځې اروپا او امریکې اړتیاوې پوره کوي او لا زیاتیږي هم !! په دې هکله ښکاره سور غبرګون او پټ مخالفت دوو خبرو ته ګوته نیسي، یا خو دا چې په شمیرنو او اټکلونو کې یې ډېره مبالغه او زیاتې شوي تر څو اړوندې خواوې خپل سیاسي اهداف تر لاسه او په افغانستان کې د یو اسلامي نظام بدنامي وکړي یا دا چې شمیرنې سمې دي خو ګټه یې ټوله د امریکې په خزانو کې لویږي چې بندول یې د امریکاییانو سوکالۍ ته ګواښونه پیښوي په هر صورت د امریکې دریځ نورې ځیړنې او پلټنې ته اړتیا لري، ځکه د امریکې دا همیشنی چلند دی چې د هر شي باره کې غبرګوني دریځ خپلوي، او د هر ډول اخلاقي او سیاسي ستونزو په وړاندې د خپلو ځانې ګټو په ترڅ کې د نورو د ګټو او غوښتنو خیال نه ساتي پاتې شو د ملګرو ملتونو دریغ او د مخدراتو په خلاف مبارزه یې چې له عادت سره سم د امریکایي دریغ تابع او د هغو بد موخو تر سره کوونکې دی.

له بلې خوا امریکا هم تل د افغانستان پر خلاف د زور او زیاتي ګواښونه او په بیلا بیلو کشالو کې د شدیدو اجرااتو غوښتنه کوي چې د مخدراتو ستونزه له هغې جملې یو روڼ او څرګند مثال دی په دې لړ کې د نورو بندیزونو وراندیز، د افغانستان د شاوخوا چاپیرو نړیوالو پولوتړل، د روس انګلیس په ملتیا د کوکنارو بوټو د ختمولو په پلمه د بیولوژیکي جګړې پیلولو اشارې په افغانستان د یوځې برغل لپاره روسي، امریکایي تړون، د (٦+٢) سیمه ییزو هیوادونو تړون د افغانستان په مقابله کې د رول او داسې نور اقدامات د امریکایي دریغ نور مثالونه دي نو که ربښتیا هم امریکا د مخدراتو په خلاف مبارزه کې جدي وي، ولې ځیلې دغه هلې ځلې او یا د دغو بوه برخه د افغانانو له خوا د کوکنارو د بشپړ بندیز او د پوډرو د کارخانو له ورانولو سره نه ملګرې کوي ؟

او په بریتانیا څه چل شوی چې له روسانو سره د افغانانو په خلاف د تاویلي جګړې لپاره ځکه تیاري نیسي چې وایي د افغانستان له کوکنارو تر لاسه شوي هیروئین په کلني ډول د هغوی د یو شمیر ځوانانو د مرګ لامل ګرځي.

د نړیوالو شمیرنو غلطي :

د نړیوالو شمیرنو له مخې په افغانستان کې د کوکنارو پیداوار د ٢٠٠٠ زرم میلادي کال په پای کې ٤٦٠٠ ټنه اټکل شوی چې د نړۍ د کوکنارو ٧٥٪ تشکیلوي خو دغه شمیرنه خامخا د افغانانو له لوري زیاته او دروغجنه ګڼل شوې.

همدارنګه نورې نړیوالې شمیرنې ښیي چې د مخدراتو د سوداګرۍ ټوله پانګه ٤٠٠ ملیاردو ډالرو ته رسیږي چې ځینې یې بیا هم ٦٠٠ او لا ځینې نور یې ١٥٠٠ ملیارده ډالره بولي او دا پانګه د ګردې نړۍ د تجارت سمه نیمایي برخه جوړوي.

نو په دې ډول کله چې عام وګړي پورتني ارقام وګوري، اټکل کوي چې د افغانانو ګټه به کم تر کمه همدغه د ٤٠٠ ملیاردو له حسابه ٣ په ٤ برخې یا پوره ٣٠٠ ملیارده ډالره وي خو په حقیقت کې د ملګرو ملتو د زیاتي اټکلنې سره سره د افغاني بزګرانو ګټه ټول ټال (٩١ ٠٥٥ ٨٧٧ ،٠٥٤) څه د پاسه یو نوي ملیارده ډالرو ته رسیږي (د ملګرو ملتو له خوا د افغانستان د کوکنارو پیداوار په انګریزۍ ژبه ٢٧ مخ وګورئ)

چې د امریکایي ګټو او دریغ په خاطر ملګرو ملتو دغه شمیرنه د کلني ریوټ په یو داسې ګوټ کې راوړې چې ښايي ډېر لږ څېړونکي ورته ځیر شي، ځکه دا د مخدراتو په هکله د ډېرو نورو خبرو او امریکایي دریغ د تناقض سپیناوی کوي. **پاتې لري**

صحت و زندگی

متصدي صفحه: محمدشعیب «صافي»

ادویه جات مروج خانواده ها

بادیان : بادیان که استعمال آن منحیث ادویه یوناني در همه خانواده ها مروج است با داشتن بعضي از مرکبات کیمیاوي داراي تاثیرات ضد نفخ و باد بوده و مقوي خوب معده به شمار میرود.

جواني : جواني نیز نامیست آشنا براي همه ما و شما زیرا منحیث ادویه یوناني در سایر خانواده ها به کثرت استعمال آن مروج است این ماده با داشتن Antiseptic داراي خاصیت ضد عفوني بوده همچنان داراي تاثیرات شدید ضد کرم است. خصوصاً تاثیرات آن بالاي کرم کوخك و کرم کدودانه بسیار زیاد میباشد.

تابلیت هاي شین تیت

شین تیت ادویه ایست براي جلوگیري از حملات و یا سکته، قلبي . این ادویه بالاي حدود هزار تن از اینگونه مریضان تطبیق گردیده و از آن نتایج قناعت بخش و امیدوار کننده بدست آمده است . از اثر استعمال این تابلیت جریان خون مریضان در عروق به شکل طبیعي در آمده و شکل لخته شدن خون را که در عروق سبب متوقف شدن و بالاخره سکته هاي قلبي میگردد از بین میبرد نتایج تطبیق آن بالاي مریضان حدود ۷۵٪ قناعت بخش بوده و اثرات شفا دهنده را وارد میکند.

د خورو خوندی ساتل

څرنگه چې خواړه د زیاتره ناروغیو د میکروبونو د انتقال سبب کیږي نو هر هیواد باید د خورو د پاک او ستره ساتنې په هکله زیاته څارنه وکړي او په خپلو ملي پروگرامونو کې ورته زیاته پاملرنه وکړي. روغتیایي زده کړې باید خصوصاً په هغو سیمو کې چې کولرا پکې گډه وي زیاتې شي او دغه ټکې باید خامخا په کې شامل وي .

۱- له اومو خورو ځان ساتل. البته پرته له هغو میوو او سبو چې پوستکې ترې اوري خو پوستکی ته یې باید څه صدمه نه وي رسیدلې او په ښه ډول پاک شي.

۲- د خورو پخول چې تول ښه پاخه شي.

۳- د خورو خوړل هغه وخت چې لا گرم وي او یا له خوړلو مخکې باید بیا ښه وایشول شي. ٤- د خورو له خوړلو وروسته د لوښو پاک مینځل او وچول.

۵- د خوراکې توکو لیږدول او خوراک ته یې چمتو کول په داسې طریقه چې میکروب ورونه رسیږي یعنې هغه خواړه چې مخکې پاخه شوي وي او د هغو لوښې باید له اومو خورو او استعمال شویو لوښو نه چې ناولې وي خوندي او لرې وساتل شي.

٦- تشناب یا بیت الخلا ته له تللو وروسته او غایطه موادو سره د تماس یا نږدیوالي په صورت کې او همدارنگه د خوراکي موادو جوړولو او د خورو تر خوړلو مخکې او یا هم ماشوم ته تر خورو ورکولو مخکې باید لاسونه په پاکو اوبو او صابون ښه پاک ومینځل شي.

د سړک د سر رستورانتونو او د هغوی خوراکي توکي د کولرا د اپیډیمیو په صورت کې له سخت خطر سره مخامخ وي د دغو خورو له لارې د ناروغیو د انتقال امکانات ډیرښته زیات دي. د چا پیریال د روغتیا ساتنې کار کوونکي دي دغسې خورو ته خاصه پاملرنه وکړي دوي سره باید دا صلاحیت موجود وي چې د اپیډیمیو په صورت کې د سړک د سر د رستورانتونو او د هغوی د ناولو او غیر صحي خورو مخه ونیسي او بند یې کړي.

مچان د کولرا په انتقال کې کم رول لوبوي خو ډیر زیات مچان بیا د خرابې روغتیا ساتنې ښکارندویي کوي او په دې توگه د ناروغیو انتقال ته ډیره ښه زمینه برابروي.

تغذیه شیر مادر در ایام حاملگي

چون مادر از وجود خویش جنین را تغذیه مي نماید بنأ تغذي مادر ارتباط مستقیم با وزن نوزاد و همچنان تاثیر مهمي در ذخیره آهن، ویتامین هاي منحل در آب و ویتامین هاي A و D دارد، اما ارزیابي تغذي مادران عملي است بس دشوار .

سروي هاي متعدد در کشور هاي روبه انکشاف مؤید آن است که تعداد قابل ملاحظه از مادران داراي وزن پایانتر از نورمال مي باشند. در جوامعي که فقر دامنگیر مردم است اکثر مادران در طول دوران حاملگي نیز به انجام کار هاي شاقه فزیکي ادامه مي دهند چنین مادران در سه ماه اخیر دوره حاملگي بصورت اوسط ۳۰۰ کالوري اضافي روزانه نیاز دارند.

کلتور، رسوم، عادات و عنعنات در نقاط مختلفه جهان بشمول افغانستان تأثیرات مختلفي در تغذي مادران حامله وارد مي نماید. مثلاً در بعضي کلتور ها مردم به اعتقاد به اینکه وزن کم مادران حامله وضع حمل را سهولت مي بخشد عملاً سعي مي ورزند تا وزن زنان را در دوران حاملگي پائینتر نگهدارند. و یا اینکه گوشت بعضي حیوانات مثلاً گوشت گاو و تخم مرغ را در زمان حاملگي تحریم مي کنند که این عمل مادران را از منبع خوب پروتین محروم ساخته و عامل دیگري در پائین بودن وزن زنان حامله شمرده مي شود اما عامل عمده و اساسي در پائین بودن وزن مادران حامله اینست که غذاي کافي نمي خورند در اکثر فامیل ها مخصوصاً در قراء و دهات افغانستان رسم بر انست که غذاي بهتر و بیشتر اولاً به مردان و بزرگان فامیل سپس به اطفال داده شده در اخیر هرگاه چیزي باقي بماند به مادران مي رسد. که از این نقطه نظر غذاي مادران معمولاً از نظر کمیت و کیفیت ناچیز است که در نتیجه باعث ذخیره کمتر آهن و ویتامین A در جنین مي شود ، مقدار ویتامین هاي شیر مادر نیز متاثر میگردد و هرگاه طفل قبل از معیاد تولد گردد ذخیره آهن وي کمتر است نزد زنان حامله کمخوني نیز معمول بوده و در ۵۰٪ زنان حامله سویه هیموگلوبین خون در سه ماه اخیر حاملگي ده گرام فیصد مي باشد .

کمخوني ها عمدتاً از سبب کمبود آهن و بعضاً بنا بر کمبود فولیك اسید نیز مي باشد

۳۰-۴۰ فیصد زنان علایم کمبود ویتامین B را نشان مي دهند.

تب

تب را همه، ما و شما کم و بیش میشناسیم و تا اندازه، بآن آشنایي داریم چون از سنین خورد سالي تا کنون در حرارت داغ آن بار ها جسم ما ملتهب گشته و ما را به بستر انداخته است. متخصصین علم طب توصیه میکنند که اگر پیشاني شما داغ و نبض تان تند میزند و یا اگر احساس میکنید که کم و یا زیاد تب دارید، درینصورت بدون مراجعه به داکتر، ادویه ضد تب را استعمال نکنید زیرا ممکن است سلامتي شما را به خطر بیاندازد.

گاهي تقلیل و یا پائین آوردن تب نه تنها اینکه کمکي به صحت مریض نخواهد کرد بلکه زمینه را براي نشو و نما ویروس ها مساعد میسازد. تب نشانه ایست از دفاع و مبارزه، بدن در مقابل میکروبها و ویروسها .

مرکز عصبي تنظیم درجه حرارت بدن در قسمت تحتاني مغز در هیپوتالاموس قرار داشته و تب نشانه، از عدم فعالیت هایپو تالاموس نبوده بلکه نشانه، تهاجم یك ماده اجنبي در بدن است که دماغ و سلولها در مقابل آن تعادل بدن را بر هم میزند و باعث تغییر درجه حرارت طبیعي بدن میگردد.

بعضي از علماي طب به این باورند که تب متناسب یا شدید بعضي اوقات با لرزه زیاد همراه مي باشد که این دگر گوني علامت مبارزه وجود است در برابر میکروبها و ویروسها . همچنان در افرادیکه به امراض قلبي مبتلا میباشند تب نشانه از شدت بیماري را نشان میدهد . در هنگام سرماخوردگي نباید بطور ناگهاني تب را با استعمال تابلیت ها و یا ادویه ضد تب یا انتي بیوتیك ها پائین آورد بلکه باید اجازه **داد تا بدن به کمك تب دفاع و مجادله خود را در برابر میکروبها ادامه دهد .**

جلوگیري از سکته هاي قلبي

قلب عضله ایست ناك مانند که بطرف چپ قفس سینه قرار دارد این عضله نسبت به سایر اعضاي بدن در زندگي انسانها داراي اهمیت بیشتر میباشد خوني را که این عضله با فشار زیاد بصورت مساویانه به تمام شرایین وجود پمپ میکند در حقیقت اهمیت حیاتي را براي تمامي اعضاي بدن دارا میباشد.

در عصر حاضر عدم فعالیت هاي جسماني، انجام ندادن ورزش هاي گوناگون، افراط در استعمال مواد مختلف الکولي و سگرت هاي متنوع، تنفس کردن هواي ناسالم و آلوده، خوردن غذا هاي چرب و روغن هاي تقلبي همه و همه دست بهم داده و سکته هاي قلبي را بدرجه، انتهایي آن ارتقا داده است .

ویتامین هاي مفید براي بدن

ویتامین C : ویتامین C از جمله ویتامین هاي مهم بوده که براي پیش گیري از بیماري خونریزي لثه ها و ست شدن دندانها و قدرت دفاعي بدن نهایت سودمند است. کمبود ویتامین سي در وجود باعث بمیان آمدن بیماري هاي آلوده شدن و خونریزي بیره ها ، ریختن دندانها ، و آماس مفصل ها میگردد.

منابع مهم این ویتامین عبارت از میوه جات خانواده ستروس، نخود تازه، جگر، کاهو، و مرچ تازه میباشد.

لیمو : لیمو منبع مهم و اساسي ویتامین C بوده و براي تکالیف جهاز هضمي نهایت موثر میباشد.

قشر میوه لیمو داراي مقدار قابل ملاحظه ویتامین P میباشد که خاصیت ترمیم کننده داشته و براي امراض چون بواسیر بسیار مفید میباشد.

ویتامین D : این ویتامین براي پیشگیري از بیماري «راسي تیسم» یا کج شدن استخوانها ، نرم شدن غضروف ها ، لرزه بدن و درد استخوانها مفید است. ویتامین D عملیه جذب کلیسم را در استخوانها سرعت بخشیده و موجب پیشگیري از بیماري سل یا توبرکلوز میگردد.

منابع مهم ویتامین D را روغن ماهي، گوشت ماهي، زردي تخم، شیر، پوست مالته و نارنج و از همه بیشتر شعاع آفتاب تشکیل میدهد .

پوهیالي لیلما «یما»

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام ۱۰

دیدگاههاي اندیشه ورزان غرب در باره تاریخ علم ، معارف ، تمدن و فرهنگ اسلامي

اختراع کاغذ و فنون حربي

بند چهلم :

اختراع آله هاوفن جنگ ازماشده　　گله وباروتوهم توپ وتفنگ ازماشده
ساختمان کاغذوهرنوع رنگ ازماشده　　صاف میگویم که هرصنعت قشنگ ازماشده
(مسیوریتو)و(کاسیري)کنندا ثبات آن　　ازره انصاف وحق بیني بمااسلامیان

شرح : (مسیوریتو،فاوي ،اندره ،وبیاردو)مشاهیربزرگ اروپایي میباشند،آنهادراثرتحقیقاتي که خودانجام داده اندثابت کرده اندکه گلوله ،بارود،توپ،تفنگ ازساخته هاي دست مسلمین میباشد،بدین معناکه براي اولین باراشیاي متذکره درسرزمینهاي اسلامي ساخته شده است .همچنان کاسیري ازکتابخانه اسکوریال کتاب خطي رابدست آورده که درسال ۱۰۰۹ میلادي نوشته شده است وازقدیمترین کتابهاي خطي دراروپابه شمارمیرودوازدیدن آن معلوم میگردد که براي اولین بارکاغذرامسلمانان اختراع نموده اند .خلاصه اینکه تمام صنعتهاي زیباوقشنگ وبدردبخورجامعه بشري ساخته وپرداخته دست مسلمین است وعلماي اروپایي چون مسیوریتووکاسیري وشماردیگري ازآنهاازروي عدل وانصاف وحق بیني به این اختراعات مسلمین اعتراف مینمایند.

صنایع مستظرفه

بندچهل ویکم :

سوي قصرعبدالرحمان کن نگاه خودقرین　　سقف (بیت الشرع)و(بیت اللیث الحمرایین
هم به جام(اصطباغ)افگن نظراي پاك دین　　تابداني صنعت مستظرفات مسلمین
(مسیولاووا)چو(مقریزي)وهم (دولنگ پري)　　میکندتصدیق مارا ازهمه دربرتري

شرح : شاعردراینجااشاره به قصرعبدالرحمان پادشاه بني امیه دراندلس مینمایدکه درآن عهدهنرمجسمه سازي رونق یافته بودوقصرعبدالرحمان مملوازمجسمه هاي رنگارنگ بودوهمچنان درسقف بیت الشرع وبیت اللیث الحمرانقاشي هاي فوق العاده زیباومحیرالعقول مشاهده میشد.به همین ترتیب شاعرذکري مینمایدازجام اصطباغ که ازجمله چیزهاي مصنورعرب است وازشهرت به سزابرخوردارمیباشدکه به جام اصطباغ سن لویي شهرت دارد .وفعلاًهم درموزیم لودرموجودمیباشد.بیان هنروفرهنگ اسلامي دراندلس حرفهایي است که مقریزي مورخ مشهوراسلامي(۱۳۶۰-۱۴۴۳م) که هم عصرابن خلدون میباشدآن رادرکتاب« تاریخ مصروسلطان صلاح الدین ایوبي » ذکرمیکندو«مسیولاو وا»و« دولنگ پري »دودانشمنداروپایي گفتاروي راتصدیق مینمایند.

حرفه و فن

بندچهل ودوم :

درتمدن مشرق ومغرب گرفت ازمامفاد　　حرفت وصنعت زمادرهرممالك پانهاد
علم یونان نیزازمابرزبانهاافتاد　　بابخوان تاریخ ویاسیاح شواي مرداد
تاتمام گفته هاي من ترابا ورشود　　بلکه معلومات ازمن نیزافزونترشود

شرح : مشرق ومغرب ازفرهنگ وتمدن مامسلمانان مفادفراوان گرفتندوهمچنان حرفه وصنعت نیزازسرزمینهاي اسلامي به سایرکشورهاصادرگردیدوعلم سرزمین یونان توسط مسلمانهادرجهان انتشاریافت .شاعرخطاب به خواننده خویش نموده میگویدکه جهت دریافت این مسایل بابه تاریخ رجوع کن وآن رابخوان ویاهم سیاح شو وسیاحت کن واین اسرارراکشف نما ،تاتمام حرفهایي راکه من گفتم به باورویقین توتبدیل گرددوحتي سطح معلومات تونسبت به من زیادتروافزونترشود.

قابل تذکراست که تمدن اسلامي تنها ازطریق جنگهاي صلیبي به اروپاراه نیافته است بلکه تمدن اسلامي بیشترینه ازطریق هسپانیاکه بدست مسلمانان فتح گردیده بودبه اروپاانتشارنموده وبه زبان لاتین ترجمه شدبه همین ترتیب آثارعلماي یونان چون ارسطو،افلاطون،سقراط،بطلیموس وغیره نیزوقتي که توسط مسلمین ترجمه شدوازطریق همین راه یعني راه هسپانیابه اروپارفته وبه زبان لاتین ترجمه شده وانتشارنمود.به همین ترتیب حرفه هاي کشاورزي ،باغداري ،کشت یك تعدادگیاهان ،حبوبات وحتي گلهاتوسط مسلمین ازراه ایتالیاوهسپانیادراروپارواج داده شد.به همین سان صنعت کاغذسازي وشیشه سازي نیزبراي اولین بارتوسط مسلمانهابه وجودآمدوبعدآبه اروپاصادرگردید.چنانچه قبلاًازپوست حیوانات جهت نوشتن کارمیگرفتندبراي اولین باردرسال ۱۸۴ هـ ق کارگاه کاغذسازي دربغداد ساخته شد.همچنان ظروف شیشه یي باراول درسوریه به وجودآمد.

مسلمین پیشگامان علم و هنر

بندچهل وسوم :

درخصوص (سن توماس)و(آلبرت)نامور　　آنکه ممتازاندریورپ بهرعلم وهنر
هم(رژرباکن)که درغرب است نامش مشتهر　　بابت «ریمندلول »ازهرعلومي باخبر
مینوسد«موسیورنان »به مضمون جلي　　کاینهمه آموختنداز«ابن رشد »و«بوعلي »

شرح : موسیورنان که یکي ازنویسنده گان برجسته غربي به شمارمیرودبه صورت واضح وروشن اعتراف مینمایدکه سن توماس ،البرت انشتاین ،رژرباکن ،ریمندلول که همه ازعلماوفضلاونوابغ غربي اندوازشهرت به سزائیزبرخورداراند،اساس علم ودانش و هنر را ازعلماي سرزمینهاي اسلامي چون ابن رشدوابوعلي سینا بلخي فرا گرفته اند.

تجارت دراسلام

بندچهل وچهارم :

درتجارت هم نهایت تیزبوداقدام ما　　چرخ میزد سکه، روزبهي برنام ما
دیگران خود غبطه میخوردند بر ایام ما　　آسمان میگشت یکسربرمراد وکام ما
بودازبیع وشراي مابه بازارجهان　　رونق وجریان وگرمي تجارت دوستان

شرح : درکارتجارت وبازرگاني نیزمسلمانان پیش قدم بودند.ایشان از راههاي دجله وفرات فراورده هاي ممتازسرزمین هاي اسلامي رابه بیزانس (روم شرقي)وباخترمسیحي (اروپاي غربي)صادرمینمودند.حتي از طریق راه ابریشم (جهت روشن شدن موضوع رجوع شود به مقاله افغانستان مرکز عمده تجارت جهاني دنیاي قدیم یا اداره کننده راه ابریشم شماره مسلسل ۴۲۱ هفته نامه شریعت) تا وروده هاي والگا و دینیپرنیزتجارت مسلمانان گسترش یافته بود .بیشترینه تجارت مسلمانان درمصر،افریقاي شمالي واسپانیابودودرآلمان وروسیه وبعضي کشورهاي دیگرسکه هاي اسلامي نیز دیده میشد.صادرات مسلمانان راخرما ،شکر،اشیاي پولادین ،ظروف شیشه یي ،کالاهاي پنبه یي وپشمي و واردات آنهارا ابریشم ،ادویه ،کافور،صمغ هاي خوشبو تشکیل میداده وبه این ترتیب سکه سعادت

ص ۴

شرح منظومهء عروج و ...

وخوشبختي برنام مسلمانان دورميزدوهمه مردمان جهان بخاطر اين سعادت وپيروزي مادرعرصه هاي مختلف غبطه ميخوردند چراكه زمان نيزبرمرادمسلمانان حركت ميكردوازاثرخريدوفروش امتعه مسلمانان بازارتجارت وبازرگاني درجهان گرم وپرخروش بود.

قسميكه ديده شدازبند(١٩-٤٤)شاعرديدگاههاي انديشه ورزان غرب رادرباره تاريخ علم ،معارف ،تمدن وفرهنگ اسلامي بيان نموده است .خوانش اين (٢٦)بندبا ارائه اسنادومدارك براي خواننده واضح مينمايد كه جوامع اسلامي مهد ايجاد پرورش وتكامل فرهنگ وعلوم مختلفه بوده وجهان اسلام شاهدبزرگترين اختراعات واكتشافات مسلمانان درهم عصروزمان بوده است .

قابل ذكراست كه اختراعات واكتشافات ونوآوريهادرجوامعي به وجودمي آيدكه به ابعادمختلف زندگي مردم توجه صورت گرفته باشدوبه علم ودانش ارزش بگذارند،بدين معني كه ازلحظ مادي پرابلم اقتصادي نداشته باشد يعني ناني براي خوردن ،لباسي براي پوشيدن وسرپناهي براي زيستن داشته باشند و از لحاظ معنوي دروازه هاي آموزشگاها برويشان گشوده باشدوعلوم متداول زمانشان رابدون هرگونه تبعيض وتنگ نظري مطالعه نمايند و از نظر روحي متكاي خويش پروردگارعالميان را بدانند و همه چيزرادرپيوندباذات حق مطرح نمايدبعني از ايمني روحي برخوردارباشد،انگاه است كه ذهنشان فعال ميگرددبه چيزهاي موجودبسنده نميكنندبه دنبال كشف واختراع چيز هاي تازه تري كه سعادت بشريت رادرقبال دارد ميپردازند.

اينهمه كشفياتي كه درجوامع اسلامي آن زمان به وقوع پيوسته است ازآرامش مادي ،معنوي وروحي آن وقت حكايت ميكند.ودانشمندان بزرگي كه امروزجوامع غربي رابه اوج ترقي وتكامل علمي رسانيده اندهمه به شكلي ازاشكال به خداوندايمان دارند،علم ودانش راقدرمي نهندوزندگي مادي شان تأمين است واگرنه چون عصرتاريك اروپادرتب جهالت ونا‌داني ميسوختند.

درعصرتاريك وضيعت جوامع غربي به گونه بي بودكه به زندگي مادي مردم توجه صورت نميگرفت به علم ودانش وقعي گذاشت نميشد و به هركشف علمي به ديده تحقيروشك وترديدنگريسته ميشدافكارخرافي درجامعه شايع بودومردم ازايمني روحي نيزبرخوردارنبودند.

امادرچنين زماني كه اروپادرتب جهالت ونا‌داني ميسوخت مسلمانان مراحل اوج ترقي وتكامل را ميپيمودندواگرمادراين زمان نيزهمان راه اسلاف خويش راتعقيب كنيم مجدداً به اوج ترقي وتكامل نايل مي آييم . ادامه دارد

په فارياب كي ...

انستيتوت رئيس محترم پوهنيار امان الله نديم د محصلانو د ښوونې او روزنې په برخه كې د استادانو د لوست د څرنګوالي او هلو ځلو په اړوند معلومات وركړل او په دې برخه كې يې ددغه ولايت د چارواكو د مرستې او همكارۍ له امله قدر داني وكړه .

وروسته د فارياب ولايت مرستيال محترم ملا دين محمد اخند د ښوونې او روزنې په كار كې ددغه انستيتوت د استادانو د ارزښتناكو خدمتونو او هلو ځلو له امله قدرداني وكړه او د لوى خداى «ج» له دربار څخه يې د هغوى د لا زياتو برياليتوبونو هيله وكړه او ددغه انستيتوت د دوه ويشتمې دورې د فارغانو د فراغت سندونه يې چې د بيولوژۍ او د ژبو او ادبياتو له څانګو څخه فارغ شويدي وويشل .

در تركيه از ...

آنان نجات يافته و تلاش عمله نجات براي يافتن افراد مفقود الاثر شده در طول ديروز جريان داشت .

به گفته عمله نجات نگراني افزايش تعداد هلاك شده گان موجود ميباشد.

په تخار كي ...

نتيجه كې د بلخ ، بغلان او د كندز د ولايتونو د بزكشي ټيمونو هر يوه په ترتيب سره لومړى دويم او دريم مقامامونه وګټل.

ددغو په زړه پورې لوبو د ننداري لپاره چې د تالقانو په ښار كې ترسره شوې لوړ رتبه امارتي چارواكو او ددغه ورزش ګڼ شمير مينه وال ورغلي و .

په فلسطين ...

اعتراض كوونكو او د صهيونيستي رژيم تر منځ جګړې هماغه شان دوام لري او صهيونستي پوځيانو له پرون سهار څخه د لويديځ ساحل او د غزې د ناوې او د غزې ښار د هوايي دګر ارتباطي لارې تړلې دي.

په خبر كې ويل شويدي ددغه بم په چاودنه كې چې په يوه موټر كې ځاى پر ځاى شوى و ٥٤ تنه صهيونستان ټپيان شويدي او د پښې د سيمې ودانې زيانمنې شويدي.

تر اوسه پورې هيڅ يوې ډلې ددغې چاودنې مسؤليت په غاړه ندى اخيستى .

د همدې خبر له مخې له صهيونستي پوځيانو سره د فلسطيني اعتراض كوونكو په نښتو نښتو كې دوه تنه فلسطينيان شهيدان او اوه تنه نور ټپيان شول .

دملي دفاع وزارت ...

ارچې د جهېو لومړى كرښې وكتلې. او د اتلو مجاهدينو د لوړ جنګي مورال له امله چې د پلورل شويو روسي نوكرانو په وړاندې د هيواد او خلكو د دفاع په خاطر لرى خوښې څرګنده كړه او په ټول هيواد كې يې د اسلامي امارت د لوړو هدفونو د تحقق په خاطر د هغوي سر ښندنه او ځان تېريدنه اسلامي دنده وبلله .

از اثر انفجار...

گلوله اشغالگران رژيم صهيونستي به شهادت رسيدند.

خبر حاكيست كه نظاميان رژيم صهيونستي به تعقيب اين تصادمات ميدان هوايي شهر غزه را بر روي مسافرين مسدود نموده است .

بين چين و ...

شده ولي جمهوري چين بر آن ادعاي ارضي داشته و آنرا بحيث يك ولايت خود بشمار مي آورد.

په ماليزيا كي ...

سيمه كې د ماسيو شرايطو د نه رعايتولو، د سرغاړونو د منلو او د كار له سيمې څخه بهر له اجازې پرته د كار كولو په علت له خپلو دندو څخه ايستل شوي او يا په موقتي ډول ګوښه كړاى شويدي.

در فلپين ...

انفجار بم ها بوده و اوضاع اقتصادي آنكشور را با وخامت رو برو ساخته است .

خبر حاكيست كه علي الرغم احضارات قابل ملاحظه پوليس شايعاتي مبني بر امكان بروز موج جديد انفجار ها بر سر زبانها بوده و احتمال خشونت موجود ميباشد.

ازطرف پوليس...

اند. وزارت امور خارجه برتانيا ضمن تاكيد خبر گفت پنج تبعه آنكشور در شهر رياض زنداني بوده و ديپلوماتان برتانيايي فقط موفق شده اند با سه تن از اين زندانيان ملاقات نمايند.

تحقيقات مامورين برتانيايي درين باره ادامه دارد.

په المان كي ...

سره څلور څلويښت تنه ښځې پرون په خپله خوښه عسكرى قشلو ته ورغلي او د وسلو د استعمالولو په زده كړه يې ... وكړ.

پخوا له دې ښځو اجازه نه لرله چې پرته له موزيك په ډلو روغتيايي كلينيكونو او د المان د اردو په روغتونونو كې كار وكړي.

د المان د پارلمان د استازو مجلس د تير ... مياشت كې د قانون په تعديل سره ددغه هيواد په وسله وال پوځ كې ښځو ته د داوطلبانه خدمت لاره اواره كړه .

ملك	[illegible]	كلتي
د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
[illegible]	RS200	RS400
[illegible]	SR.150	SR.300
[illegible]	US$75	US$150

د باميانو ولايت په مربوطاتو كي ...

چارواكو او د باميانو ولايت د ديندارو خلكو په ګډون ددغه ولايت په مركز كې جوړه شوې وه.لومړى د كلام الله مجيد څو مبارك ايتونه ولوستل شول او وروسته د اسلامي اردو له پوځونو سره يو ځاى شويو قوماندانانو هر يو سر معلم سيف الدين قوماندان داود او قوماندان فاروق خبرې وكړې او څرګنده يې كړه چې د مسعود او خليلي تر څنګ د روسي سلاكارانو په ليدلو او د هغوى په ناوړو هدفونو باندې په پوهيدو سره د اسلامي اردو د پوځونو په وړاندې له مخالفت څخه لاس واخيست او د خپلو وسله والو افرادو په ګډون د اسلامي امارت د اردو له پوځونو سره يو ځاي شول. دوى ژمنه وكړه چې د اسلامي امارت د هدفونو د عملي كولو او د هيواد او خلكو د دښمنانو د توطئو د شنډولو په لاره كې به د خپل ژوندانه تر وروستى سلګى پورې دجنګيږي .

وروسته محترم محمدي محترم سيد محمد اسماعيل ذكي او محترم جعفري د خلكو په نمايندګى خبرې وكړې او يو ځل بيا يې له اسلامي امارت سره په خپلې هر اړخيزې همكارۍ باندې ټينګار وكړ .

د يو بل خبر له مخې د هغې غونډې په ترڅ كې چې د پنجاب د ولسوال محترم سيد امين عارف محترم قوماندان احساني، محترم قوماندان محقق د يكاولنګ له ولسوالى څخه د قوماندان علي او د پنجاب ولسوالى يو شمير نورو نظامي چارواكو او ديندارو خلكو په ګډون د باميانو ولايت په مركز كې جوړه شوې وه د پنجاب محترم ولسوال او يو شمير نورو چارواكو خبرې وكړې او د اسلامي امارت د مخالفينو ناوړه عملونه او غرضونه او په تيره بيا د خليلي د ډلې خاينانه كړه وړه په كلكه وغندل او ټينګار يې وكړ چې د هغوى د ناوړو پلانونو او دسيسو د شنډولو په لاره كې به هر اړخيزې هلې ځلې وكړى .

د يو بل خبر له مخې په هغې غونډه كې چې محترم استاد فكورى د ورث د ولسوالى محترم واحدى او د پنجاب په ولسوالى كې د ميشتو قطعاتو د يو شمير قوماندانانو په ګډون جوړه شوې وه د خليلي د ډلې پوځي تحركات وغندل شول او ددغه شان فاسدو ډلو د پرو پناه كولو په لاره كې تيارى څرګند شو .

دلچسپ و خواندني

عينك كه قدرت ديد را چند برابر ميسازد

يك مبتكر اسپانيايي عينك هاي هوشمندي ساخته است كه قدرت ديد را به چند برابر افزايش ميدهد .

بااستفاده از اين عينك ميتوان ذرات كوچك را در فاصله دوازده متري بخوبي تشخيص داد در حاليكه فردي با قدرت ديد صد فيصد تنها تا شش متري قادر به تشخيص اين ذرات است .

اين پژوهشگر در ساخت عينك مذكور سعي كرده است با استفاده از چندين آيينه كوچك و متحرك خطا هاي چشمي را بصورت دايمي اصلاح كند.

آيا ميدانيد ؟

ميتوانيد با مطالعه تنه درختان نه تنها عمر درختان بلكه وضع آب و هوا را در سالهاي رشد آن معلوم كنيد

اگر درختي را از تنه اره كنيد، دايره هاي متعددي را در آن مشاهده ميكند اين دايره اندازه رشد درخت را در يك سال نشان ميدهد بناً عمر درخت به اندازه دايره هاي است كه شما در تنه اره شده، آن مشاهده كرده ايد.

اگر به دقت به دايره ها ديده شود، مشاهده خواهيد كرد، كه ضخامت چوب در بين دايره ها متفاوت ميباشد از روي همين تفاوت ميتوان وضع آب و هوا را حدس زد به اين مفهوم كه هر اندازه ضخامت چوب در بين دايره ها زياد تر باشد نشانه رشد خوب درخت و علامه مساعدت خوب آب و هوا در همان سال است چه آب و هوا خوب يكي از عوامل مهم در رشد و نموي تمام نباتات ميباشد. و اگر ضخامت در ميان دايره كوچك باشد، نشانه آن است وضع آب و هوا در همان سال خراب بوده و باعث كاهش رشد، درخت شده است .

با آنهم، عوامل ديگري نيز در رشد و نموي درختان دخيل اند ولي يكي از عوامل مهم رشد، همانا وضع آب و هوا ميباشد.

دود سگرت موجب كاهش قدرت ديد افراد ميشود

محققان انجمن چشم امريكا اعلام كردند كه دود سگرت موجب كاهش قدرت ديد افراد ميشود به گفته اين محققان دود سگرت خطر تحليل سلول هاي عصبي شبكه را تا سه برابر افزايش ميدهد و موجب بروز نوع بيماري غير قابل درمان ميشود كه در آن قدرت بينايي انسان بشدت كاهش مي يابد .

دود سگرت با كاهش مواد انتي اوكسيلانت موجب افزايش خطر بروز اين بيماري ميشود و علاوه بر آن خطر ابتلا به بيماري را به آب مرواريد نيز در افراد سگرتي افزايش ميدهد اين محققان ترك كردن سگرت را بهترين راه براي كاهش خطر ابتلا به بيماري هاي چشمي وضعف بينايي عنوان كرده اند.

اطلاعيه كميته ملي المپيك

قرار است دور نيمه فاينل مسابقات فوتبال ميان تيم هاي كه قبلاً از طرف تيم شهيد فيصل درميدان سپورتي چمن ببرك مسابقات خويش را انجام داده بودند امروز ساعت ٩ صبح در چمن حضوري راه اندازي گردد .

تيم هاي فوتبال كه به دور نيمه فاينل مسابقات جام شهيد فيصل راه يافته اند امروز صبح در چمن حضوري حاضر گردند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press